د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

گڼه: 399

(۴ قوس – ۱۱ قوس 1401 هـ ش)

# د قوانینو د انفاذ مراحل: د جمهوریت او امارت پرتله



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د قوانینو د انفاذ مراحل: د جمهوریت او امارت پرتله ........................................3
- سریزه ........................................................................3
- د جمهوریت پرمهال د قوانینو د انفاذ مراحل ........................................4
- د اسلامي امارت پرمهال د قوانینو د انفاذ مراحل........................................6
- پایله او پرتله ........................................................................8
- توپیرونه ........................................................................8
- مشابهتونه ........................................................................9
- وړاندیزونه ........................................................................9
- مأخذونه........................................................................ 11

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د قوانینو د انفاذ مراحل: د جمهوریت او امارت پرتله

## سریزه

انسان یو ټولنیز موجود دی او اړ دی چې له نورو انسانانو سره یوځای ژوند وکړي، خو انسانان په فطري لحاظ ځان غوښتونکي دي، د مصالحو په ترلاسه کولو او د مفاسدو په لمنځه وړلو کې یو له بل سره په ټکر کې راځي، په دې صورت کې که د قضیې هر یو لوری (هر یو د متخاصمینو) وغواړي چې په مقابل لوري خپل نظر ومني او کوښښ وکړي چې باید دده مصلحت په نظر کې ونیول شي، نو د دوی ترمنځ دښمني رامنځته کیږي چې بشري ټولنه له تباهۍ او له منځه تللو سره مخامخ کېږي، نو له دې کبله د تاریخ په اوږدو کې انساني ټولنې د خپلو اختلافونو د حل لپاره یو لړ قوانین وضعه کړي چې د هغوی رعایت او درناوي په پایله کې یې په خپل ژوند کې یو څه ارامي او سوکالي ترلاسه کړې ده. له دیني پلوه د اسماني شریعتونو قواعد په دوه ډوله ویشل شوي دي:

ثابت او قطعي قواعد او اجتهادي او بدلېدونکي قواعد.

قطعي قواعد: هغه دي چې په قران کریم او نبوي سنتو کې پرې ښکاره دلیلونه موجود وي او د امت فقهاوو پرې اتفاق کړی وي. د بشریت لپاره یې د نېکمرغۍ او عدالت سمه لاره ښودلې وي او انسانان له بې لارې کېدلو او هلاکت څخه ژغوري.

اجتهادي قواعد: دغه قواعد په مجموع کې تغییر منونکي احکام دي چې د بشري ټولنو بېلابېلو حالاتو او د وخت له بدلون سره سم د شته ستونزو لپاره قانوني حللارې وړاندې کوي. یعنې اسلامي شریعت هم په اجتهادي مسایلو کې د وضعي قوانینو د جوړېدو اجازه ورکوي، خو په دې شرط چې د لومړني ډول یعنې ثابت قواعدو سره په ټکر کې نه وي.

د سلسله مراتبو له اړخه په افغانستان کې قوانین پر اساسي قانون او عادي قوانینو ویشل کېږي. له حقوقي اړخه د ارګانیکي قوانینو اصطلاح هم شته، خو دغه ډول قوانین په افغانستان کې د کارونې وړ نه دي. د عادي قوانینو یا په کل کې د تقنیني سندونو د جوړولو لپاره په تېر جمهوري نظام کې د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو قانون په نوم یو ځانګړی قانون رامنځته شوی و چې نهه څپرکي او یوشپېته مادې یې درلودې او د همدغه قانون په رڼا کې یو نوی تقنیني سند رامنځته کېدای شو. د اسلامي امارت په راتګ سره د تقنیني سندونو د جوړولو په موخه د یو فرمان له لارې ځانګړي پړاوونه رامنځته شوي دي چې له دې معلومېږي د

جمهوریت د وخت قانون پرې لغوه شوی دی. په دې تحلیلي لیکنه کې دغه دواړه حقوقي سندونه سره پرتله کوو تر څو معلومه کړو چې د جمهوریت او امارت د قوانینو د جوړېدو په طرز کې کوم توپیرونه او مشابهتونه موجود دي.

## د جمهوریت پرمهال د قوانینو د انفاذ مراحل

د جمهوریت پرمهال د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو قانون په دربیمه ماده کې تقنیني سندونه په دې ډول تعریف شوي دي: ((قانون، تقنیني فرمان، مقرره، اساسنامه او تعدیل، ایزاد، حذف، الغاء، تعلیق او په هغو کې ضمیمه او د حکومت مصوبه ده چې د تقنیني صبغې لرونکې وي.)) یعنې په دې ماده کې راغلي ټولو اسنادو ته د تقنیني سند اصطلاح کارول شوې ده او اسلامي امارت چې دغه اصطلاح په اصولي سند اړولې ده، نو کېدای شي ووایو چې د اصولي سند اصطلاح هم پورتنیو ټولو اسنادو ته راجعې کېدلای شي.

د جمهوریت پرمهال د تقنیني اسنادو د انفاذ مراحل په لاندې ډول وو:

۱- تسوید: تسوید له (سود) نه ریښه اخیستې ده چې معنی یې د کاغذ تورول او لیکل دي. کله چې یوه طرحه ولیکل شي او هغه بیا پاک نویس شي هغې ته مسوده ویل کیږي او ددې مسودې لیکونکي ته مسود ویل کیږي.

د تقنیني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د دربیمې مادې په ۱۵مه فقره کې تسوید په دې ډول تعریف شوی دی: ((تسوید د تقنیني سند د طرحې لیکل دي.))

د تقنیني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د څوارلسمې مادې پر بنسټ د تقنیني سند د تسوید دنده د اړوندې ادارې ده، یعنې هر هغه اداره چې یو تقنیني سند ته اړتیا ولري کولای شي هغه تسوید کړي او د نورو پړاوونو لپاره یې اړونده مرجعې ته ولېږي.

۲- تدقیق: دقت کولو ته ویل کېږي. د تقنیني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د دربیمې مادې په ۱٦مه فقره کې تدقیق په دې ډول تعریف شوی دی: ((د شکل او محتوی له نظره د تقنیني سند د لومړنۍ طرحې د اصطلاحګانو، کلیمو، عبارتونو، جملو او حکمونو ارزونه او د اسلامي شریعت له حکمونو سره د هغه د نه مخالفت او د افغانستان د اساسي قانون، نورو نافذه قوانینو، بین المللي معاهداتو او میثاقونو او د ټولنې له سالم عرف سره د هغه د سمون په هکله د ډاډ ترلاسه کول دي.))

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د دوه ويشتمې مادې پر بنسټ تقنيني سند د تدقيق او نورو پړاوونو د تېرولو په موخه بايد عدليې وزارت ته ولېږل شي. يعنې د تدقيق دنده د عدليې وزارت ده.

۳- تاييد: د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د درېيمې مادې په ۱۷مه فقره کې تاييد په دې ډول تعريف شوی دی: ((هغه تصميم دی چې د تقنيني سند د راتلونکو پړاوونو د تېرولو د اړتيا په هکله له احوالو سره سم د قوانينو د کمېټې يا د حکومت له لوري نيول کېږي.))

له تصويب مخکې د تاييد مرحله ده. په دې مرحله کې په چارو اداره کې د قوانينو يوه کمېټه ده چې د تقنيني سند دا پړاوو دې کمېټې پورې اړه لري. د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون ځلورځلوېښتمې مادې پر بنسټ يو تقنيني سند د عدليې وزارت له تدقيق او د عدليې وزير له لاسليک وروسته د چارو ادارې له لوري د قوانينو کمېټې ته وړاندې کېږي او کله چې د قوانينو کمېټې تقنيني سند تاييد کړ، نو د تقنيني سند د تاييد مرحله ده.

۴- تصويب: تصويب د تائيد او قبلولو مانا ورکوي. د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د درېيمې مادې په ۱۸مه فقره کې تصويب په دې ډول تعريف شوی دی: ((هغه تصميم دی چې د تقنيني سند د طرحې د تاييد يا رد په هکله د واکمنې مرجع له لوري نيول کېږي.))

د تقننې سند د تصويب دنده د ملي شورا د دواړو جرګو وه چې لومړې به تقنيني سند ولسي جرګې او بيا به مشرانو جرګې ته وړاندې کېده، کله به چې دواړو جرګو تقنيني سند تصويب کړ، نو د توشيح لپاره به جمهور رئيس ته وړاندې کېده.

۵- توشيح: د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د درېيمې مادې په ۱۹مه فقره کې توشيح په دې ډول تعريف شوی دی: ((د هغه فرمان په ذريعه چې د قانون، تقنيني فرمان او په هغو کې د تعديل، ايزاد، حذف، الغاء، تعليق او ضميمې د انفاذ په منظور صادر شوی وي، د جمهور رئيس صحه اېښودل(لاسليک) دی.)) د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د اته څلوېښتمې مادې پر بنسټ د تقنيني سند د لاسليک يا توشيح دنده د جمهور رئيس ده.

٦- نشر يا خپرول: د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د اته څلوېښتمې مادې پر بنسټ د تقنيني سند خپرول د عدليې وزارت دنده ده او عدليې وزارت يې پخپله رسمي جريده کې خپروي.

۷- انفاذ: تطبيقول يا پلي کولو ته ويل کېږي. د تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاوونو څخه د تېرولو قانون د پنځوسمې مادې پر بنسټ تقنيني سند په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

دا د جمهوریت پرمهال د قوانینو د انفاذ مراحل وو چې دلته مو لنډ بحث پرې وکړ، دا مراحل نور ډېر حقوقي او تخنیکي مسایل لري، خو زموږ دا مقاله یې د لیکلو حوصله نه لري.

## د اسلامي امارت پرمهال د قوانینو د انفاذ مراحل

د اسلامي امارت امیر د ۱۴۰۱هـ.ل کال د عقرب میاشتې پر ۳یمه نېټه یو فرمان لاسلیک او خپور کړ چې په هغې کې یې د قوانینو د انفاذ مراحل یا د قوانینو د جوړولو طرز څرګند کړی دی. دا فرمان ټولې پنځه مادې لري. د جمهوریت په پرتله په دې فرمان کې د تقنیني اسنادو پرځای د اصولي اسنادو اصطلاح کارول شوې ده او له دې داسې معلومېږي چې امارت د امان الله خان او نادرخان د شاهي دورې اصطلاحاتو ته بېرته ورګرځېدلی دی.

د دې فرمان له مخې د اسلامي امارت د قوانینو د انفاذ مراحل په لاندې ډول دي:

۱- تسوید: د اصولي اسنادو د تسوید یا لیکنې په اړه د یاد فرمان لومړۍ ماده لاندې موارد ذکر کوي:

(۱) د اصولي سند ابتدایي مسوده دې د اړوندې ادارې له لوري تسوید شي.

(۲) اداره مکلفه ده، چې د اړوند اصولي سند ابتدایي مسودې د تسوید لپاره د علماوو، متخصصینو او په دې برخې کې د تجربه لرونکو مسلکي کارکوونکو کمېټه جوړه او توظیف کړي.

(۳) که چېرې د اصولي سند تطبیق په څو ادارو پورې اړوند وي، د اړوندو ادارو د ګډ تصمیم پر بنسټ د اصولي سند د ابتدایي مسودې د تسوید په منظور له هرې ادارې څخه د علماوو، د اړونده برخې تجربه لرونکو مسلکي کارکوونکو او متخصصینو په ګډون کمېټه جوړه او توظیف شي.

(۴) هغه اداره چې د اصولي سند په تطبیق کې زیات مکلفیت ولري، د دې مادې په (۳) فقره کې درج شوې کمېټه دې د هغې رهبري او فعالیت تنظیم کړي.

(۵) د دې مادې په ( ۲ او ۳) فقرو کې توظیف شوې کمېټه مکلفه ده، هغو موادو ته چې شرعي اړخ ولري فقهي مأخذونه د حنفي فقهي له کتابونو څخه پیدا او تخریج یې وکړي.

له پورتنۍ مادې څرګندېږي چې هر هغه اداره چې یو تقنیني سند یا اصولي سند ته اړتیا ولري هغه دې خپل سند د یوې کمېټې له لارې چې علماء هم په کې شامل وي تسوید کړي. اړوندو ټولو ادارو کې د جمهوریت د وخت قوانین شته او هر اداره هماغه قانون اساس ګرځوي او پر هغې له سره کتنه کوي، خو د دې کتنې لپاره معیار دادی چې تقنیني سند باید د اسلامي شریعت او حنفي فقهې سره په ټکر کې نه وي او هغه اړخونه چې شرعي وي د هغې لپاره باید د حنفي فقهې له کتابونو دلایل پیدا او ورسره ضمیمه شي او د همدې ضمیمې سره یوځای به نور پړاوونه تېروي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۲- تدقیق: د امارت د قوانینو د انفاذ له مراحلو دویمه مرحله تدقیق ده او د جمهوریت د نظام په څېر د تدقیق دا دنده یې عدلیې وزارت ته سپارلې ده. د اصولي سندونو د پړاوونو د تېرولو د څرنګوالي د فرمان په دویمه ماده کې په دې اړه راغلي دي:

(۱) وزارتونه او امارتي اداري مکلفې دي، چې د اړوندو اصولي سندونو ابتدايي مسودې د شرعي څېړنې، تدقیق او کره کتنې لپاره عدلیې وزارت ته ولېږي.

(۲) د عدلیې وزارت مکلفیت لري، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو اصولي سندونو ابتدايي مسودې د علماوو او د اصول جوړونې او علمي- حقوقي څېړنو د مسلکي غړیو له لوري تدقیق او نهایي کړي.

(۳) د عدلیې وزارت د اصول جوړونې او د علمي- حقوقي څېړنو اړوند علمای کرام مکلف دي، چې د هغو موادو لپاره چې شرعي اړخ ولري او د اړونده اداري لخوا یې د حنفي فقهې له کتابونو څخه تخریج شوی وي، تحقیق او تدقیق وکړي.

(۴) د عدلیې وزارت مکلفیت لري چې د اصولي سندونو تر منځ د تعارض مخنیوی وکړي.

د پورتنۍ مادې په رڼا کې عدلیې وزارت باید د اصولي سند تدقیق په لاندې مواردو کې وکړي:

الف: د اصولي سند د مسودې اړوند لیکل شوي فقهي دلایل باید وڅېړل شي تر څو دقیق شي او د شریعت سره یې ټکر لمنځه لاړ شي؛

ب: د اصولي سند کره کتنه وشي تر څو له حقوقي پلوه د قانون جوړونې له اصولو سره په ټکر کې نه وي؛

ج: د اصولي اسنادو ترمنځ د ټکر مخنیوی وکړي، یعنې د اصولي سند کومه مسوده چې د تدقیق لپاره راغلې هغه باید له نورو اصولي اسنادو سره وګوري چې د کوم سند سره په ټکر کې نه وي.

۳- تصویب یا نهایي کتنه: د امارت د قوانینو د انفاذ له مراحلو درېیمه مرحله تصویب یا نهایي کتنه ده. د اصولي سندونو د پړاوونو د تېرولو د څرنګوالي د فرمان په درېیمه ماده کې په دې اړه راغلي دي:

(۱) د اصولي سندونو د نهایي کتنې لپاره به مستقل کمېسیون ایجادېږي.

(۲) د عدلیې وزارت مکلفیت لري، د اصولي سندونو نهایي مسوده د بیا کتنې او د نورو پړاوونو د تېرولو په منظور د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي کمېسیون ته ولېږي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی کمېسیون مکلفیت لري، له عدلیې وزارت څخه راغلې د اصولي سندونو نهایي مسودې په دقیق ډول وڅېړي او ټول اړین تصحیحات یې وکړي او د مشرتابه مقام ته یې وړاندې کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

(۴) د اصولي سندونو د نهايي کتنې کمېسيون، د اصولي سندونو د کتنې او تصحيح وروستنۍ مرجع ده، له دې وروسته مسوده د توشېح لپاره چمتو ګڼل کېږي، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حضور ته د توشېح لپاره وړاندې کېږي.

(۵) د اصولي سندونو د نهايي کتنې د کمېسيون لپاره دې ځانګړې دارالانشاء او اداري تشکيلات رامنځته شي.

له پورتنۍ مادې معلومېږي چې د اصولي سندونو د تصويب لپاره يو ځانګړی کمېسيون جوړېږي، خو دا کمېسيون لا جوړ شوی نه دی او د پنځمې فقرې پر بنسټ د دې لپاره ځانګړې دارالانشاء او اداري تشکيلات منظور شوي دي، نو تراوسه د دې کمېسيون تشکيلات لا څرګند نه دي، خو که هر وخت دا کمېسيون رامنځته شي، نو د اصولي سندونو د اصلاح او کتنې وروستۍ مرجعې به وي او د دې کمېسيون له تصويب وروسته به د توشيح لپاره د امارت امير ته ځي.

۴- توشيح: کله چې د تصويب کمېسيون اصولي سند نهايي کړ، نو د اصولي اسنادو په اړه د فرمان د دربېمې مادې د دربېمې فقرې پر بنسټ به يې د توشيح يا لاسليک لپاره د امارت امير ته لېږي او هغه به يې لاسليکوي.

۵- نشر: کله چې د امارت امير اصولي سند لاسليک يا توشيح کړ، نو دغه سند به د خپرېدو يا نشر لپاره عدليې وزارت ته راځي او عدليې وزارت به يې په رسمي جريده کې خپروي. د اصولي سندونو د پړاوونو د تېرولو د څرنګوالي د فرمان په دربېمه ماده کې په دې اړه راغلي دي:

اصولي سندونه دې له توشېح څخه وروسته په رسمي جريده کې د خپرېدو لپاره د عدليې وزارت ته ولېږل شي.

٦- انفاذ: اصولي سند په رسمي جريده کې د خپرېدو وروسته پلي کېږي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## پایله او پرتله

د جمهوريت او اسلامي امارت د قوانينو د انفاذ مراحلو له پېژندنې وروسته دلته د دواړو ترمنځ يوه پرتله ترسره کوو:

## توپیرونه

۱- د جمهوريت پرمهال د قوانينو د انفاذ مراحل ۷ وو او د اسلامي امارت د قوانينو د انفاذ مراحل ٦ دي.

۲- د جمهوریت پرمهال د تقنیني سند د تسوید پرمهال اړونده اداره په دې مکلفه نه وه تر څو د تقنیني سند د مسودې سره ضمیمه د حنفي فقهې دلایل عدلیې وزارت ته ولېږي، بلکې یوازې د تقنیني سند د مسودې په لېږلو مکلف و، خو د اسلامي امارت پرمهال اړونده اداره د تقنیني سند هغه برخې چې شرعي اړخ ولري باید د حنفي فقهې څخه باید ورته دلایل ولري او هغه په لیکلي ډول له مسودې سره ضمیمه عدلیې وزارت ته ولېږي.

۳- د جمهوریت پرمهال د قوانینو د تصویب دنده د ملي شورا وه، خو د اسلامي امارت پرمهال دغه دنده ځانګړې کمېسیون ته سپارل شوې ده.

۴- د جمهوریت پرمهال د عدلیې وزارت له تدقیق وروسته تقنیني سند د تایید لپاره د چارو اداري د قوانینو کمېټې ته لېږل کېده، خو اسلامي امارت د قوانینو د انفاذ په مراحلو کې دغه مرحله نشته.

۵- د جمهوریت پرمهال د قوانینو توشیح کوونکی جمهور رئیس و او د اسلامي امارت پرمهال دغه دنده امیر المؤمنین ترسره کوي.

## مشابهتونه

۱- جمهوریت او اسلامي امارت دواړو د قوانینو او یا تقنیني اسنادو د تسوید دنده اړونده اداري ته سپارلې ده.

۲- جمهوریت او اسلامي امارت دواړو د قوانینو یا تقنیني اسنادو د تدقیق دنده عدلیې وزارت ته سپارلې ده.

۳- جمهوریت او اسلامي امارت دواړو د قوانینو د خپرولو دنده عدلیې وزارت ته سپارلې تر څو یې په رسمي جریده کې خپره کړي.

۴- جمهوریت او اسلامي امارت دواړو د قوانینو انفاذ منلی دی، معنی دا چې دواړه په دې موافق دی چې پرته له قانون یا تقنیني سند څخه اداري کارونه پرمخ نشي تلی او ټولنه پرته له قانون څخه نیمګړې ده.

## وړاندیزونه

۱- هر تقنیني سند/اصولي سند یا قانون د اساسي قانون په رڼا کې جوړېږي، نو په کار داده چې اسلامي امارت دې  هر څومره زر چې کېږي اساسي قانون جوړکړي.

۲- اسلامي امارت د قوانینو د انفاذ مراحل د یو تقنیني فرمان په ډول منلي دي، نو ښه داده چې اسلامي امارت دې دغه فرمان په یو تفصیلي او تشریح قانون یا مقرره باندې بدل کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳- اسلامي امارت د تسوید په مرحله کې اړونده اداري مکلفې کړې دي چې د اصولي سند شرعي اړخ دې د حنفي فقهې څخه استخراج کړي، خو ځینې وخت داسې پېښېږي چې یو قضیه په حنفي فقه کې په سم ډول حل شوې نه وي او یا دا چې د نورو فقهو دلایل د حنفي فقهې په پرتله قوي وي، نو اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي چې حنفي فقه دې د لومړنی مرجع په توګه ومني، خو نورو فقهو ته د مراجعې دروازه دې نه بندوي او د اړتیا په صورت کې دې په نورو فقهو استدلال هم ومني.

۴- د قوانینو د تصویب یا نهایي کتنې کمېسیون لا مشخص نه دی، لومړی دې ددغه کمېسیون تشکیلات واضح شي او بیا دې په دې کمېسیون کې د دیني عالمانو ترڅنګ، حقوقپوهانو او د اړونده قوانینو اهل خبره خلکو ته ځای ورکړل شي.

۵- د اسلامي امارت ټولې اداري دې پخواني قوانین په مطلق ډول نه لغوه کوي، ځکه پخواني قوانین په یوه اسلامي ټولنه کې جوړ شوي او هر قانون کې د اسلامي شریعت احکامو ته پام شوی دی. که نوي قوانین جوړېږي اساس دې پخواني قوانین ونیول شي او که په هغوي کې ځینې موارد داسې وي چې تعدیل ته اړتیا ولري هغه دې تعدیل شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## مأخذونه

۱- د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو قانون، ۱۳۹۷ هـ.ل کال، د عدلیې وزارت رسمي جریده، پرله پسې گڼه: ۱۳۱۳.

۲- د اصولي سندونو د پړاوونو د تېرولو څرنگوالي په هکله د اسلامي امارت د امیرالمؤمنین فرمان، د فرمان گڼه ۹، د فرمان نېټه: ۱۴۰۱/۸/۲.

۳- عبدالصبور مبارز، د اساسي قانون پېژندنه، سلام خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۷هـ.ل کال.

۴- نظام الدین عبدالله، مبادي حقوق افغانستان، انتشارات سعید،۱۳۹۲ لمریز کال.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹